مجـــله علـــمی پـــوهنتون ســـــلام
https://salam.edu.af/magazine/14

# د متقدمينو تفسير پوهانو په وړاندې د قرآن کريم د محکم او متشابه آيتونو په تقسيم او تعريف کې د وقف رول

پوهنوال دکتور محمد مزمل اسلامي1

1- د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د اسلامي علوم پوهنځي استاد
+9378649491 :
mmislami@gmail.com :

**لنډيز**

د متقدمينو تفسير پوهانو تر مينځ د قرآن کريم د محکم او متشابه آيتونو د تعريف او تقسيم په اړه مختلف آند لوري رامينځته شوي دي چې متشابهات يې په مختلفو ډولو ويشلي او په مختلفو ډولونو يې تعريف کړي دي. د محکم او متشابه په دغو تعريفونو او ويشلو کې د محکم او متشابه اړوند آيت (هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ) کې د وقف قضيه بنسټيز رول لري. په دغه لنډه مقاله کې د متقدمينو تفسير پوهانو په وړاندې د محکم او متشابه په تعريف او تقسيم کې د وقف همدغه رول څېړل شوی، د هغه حالتونه او پرهغو باندې د استدلال کيفيت روښانه شوی، او پر هغو کې غوره او راجح نظر په ګوته شوی دی.

متقدمينو تفسير پوهانو د محکم او متشابه آيتونو په تعريف او تقسيم کې په آيت کې په راغلو دوو وقفونو استدلال کړی، څنو يې يوه وقف ته ترجيح ورکړې او بل يې له پامه غورځولی او څنو نورو يې د هغوی په عکس دريځ نيولی دی او څنو نورو بيا دواړه په يو وخت کې معتبر ګڼلي دي.

يوې ډلې علماوو په آيت کې يوازې د (اللَّهُ) پر مبارک لفظ باندې وقف ته اعتبار ورکړی او په همدې بنسټ يې متشابهات يوډول ګڼلي او هغه يې داسې تعريف کړي چې له الله پاک پرته بل څوک يې پر تأويل علم نه لري.

دويمې ډلې بيا په آيت کې د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) لفظ باندې وقف معتبر ګڼلی او د (اللَّهُ) پر مبارک لفظ يې وقف له پامه غورځولی دی، او بنا پر همدې يې متشابهات يو ډول ګڼلي او هغه يې داسې تعريف کړي چې راسخ علماء يې په تفسير او بيان باندې پوهيږي.

او درېيمې ډلې علماوو بيا دواړه وقفونه په نظر کې نيولي دي او بنا پر دې يې متشابهات دوه ډوله تقسيم کړي او هر يو يې جلا جلا تعريف کړی دی. د دوی پر وړاندې د لومړي وقف د اعتبار پر بنسټ د متشابهاتو لومړی نوعه هغه ده چې د هغو په تأويل باندې يو ازې الله پاک علم لري او له هغه پرته بل څوک – که هغه راسخ علماء دي او که نور – د متشابهاتو د تأويل علم ته لاسرسی نه لري. د دويم وقف پر بنسټ د متشابهاتو دويمه نوعه هاغه ده چې د هغو د تأويل پوهه د عامو مسلمانانو له مينځه راسخو علماوو ته هم حاصله ده. چې همدا د متشابهاتو په تقسيم او تعريف کې د وقف د رول په هکله صحيح او جامع نظر او موقف دی.

**معلومات مقاله**

تاريخ نشر: 1402/10/22
شماره مقاله در ژورنال: 02
تعداد صفحات: 06
شماره نوبتی مجله: 14

**کليد واژه ها**

تأويل، تفسير پوهان، متشابهات، محکمات، وقف.

**معلومات مجله:**

مجله علمي پوهنتون سلام، نشرات خويش را از سال 1390 هـ.ش آغاز نموده و دست آورد های زيادی در اين زمينه دارد، در ادامه سلسله فعاليت های خويش به تاريخ 1401/03/22 اعتبار نامه خويش را به عنوان يکی از معتبرترين مجله از وزارت محترم تحصيلات عالی کشور به دست آورد،
آدرس: افغانستان، کابل، ناحيه چهارم، کلوله پشته، چهار راهی قلعه بست (گل سرخ)، پوهنتون سلام.
**آدرس ارتباطی؛ ويبسايت:** https://research.salam.edu.af، https://salam.edu.af/magazine **ايميل:** salamuk@salam.edu.af ، **شماره های تماس:** +93202230664 و +93788275275

## سريزه

الحمد لله رب العلمين، والصلاة والسلام على سيدنا وحبيبنا رسول الله الصادق الأمين، وعلى آله، وأصحابه، ومن اهتدى بهديه، و دعى بدعوته إلى يوم الدين؛ أما بعد:

فقد قال الله سبحانه وتعالى: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ.}[1]

[1]- د آل عمران سورت، ۷ آيت.

الله پاک په پورتني مبارک آیت کې د قرآن کریم آیتونه په دوه ډوله ویشلي دي: محکمات او متشابهات. محکمات یې د قرآن کریم اصل معرفي کړي او د متشابهاتو پلټنه یې د کږو زړونو والاوو کار  ګڼلی دی.

ورسره په دې آیت کې د (اللَّهُ) او (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) په الفاظو باندې وقف را نقل شوی دی چې د متشابهاتو په تقسیم او تعریف کې پرې علماوو په مختلفو بڼو استدلال کړی دی. [1]

له همدې کبله د محکماتو او متشابهاتو پېژندل او په هغو کې د وقف رول خورا اړین او عملا ورته ډېره پاملرنه شوې ده.

د متقدمینو[2] قرآني تفسیر پوهانو تر مینځ د محکم او متشابه د تعریف او تقسیم په اړه درې آند لوري رامینځته شوي دي چې متشابهات یې په مختلفو ډولونو ویشلي او په مختلفو ډولو یې تعریف کړي دي.

د محکم او متشابه په دغو تعریفونو او ویشلو کې د محکم او متشابه اړوند آیت کې د وقف قضیه بنسټیز رول لري. په دغه لنډه مقاله کې د متقدمینو تفسیر پوهانو په وړاندې د محکم او متشابه په تعریف او تقسیم کې د وقف همدغه رول څېړل کېږي، د هغه حالتونه او پرهغو باندې د استدلال کیفیت روښانه کېږي، او په هغو کې غوره او راجح نظر په ګوته کېږي.

**د مسئلې بیان**

یو شمېر متقدمینو تفسیر پوهانو د محکم او متشابه آیتونو په تعریف او تقسیم کې په آیت کې په راغلو وقفونو استدلال کړی، څنو یې یو وقف ته ترجیح ورکړې او بل یې له پامه غورځولی او څنو یې د هغوي په عکس دریځ نیولی دی او څنو نورو بیا دواړه په یو وخت کې معتبر ګڼلي دي.

هڅه کیږي څو په دغه څېړنه کې د متقدمینو تفسیر پوهانو په وړاندې د متشابهاتو په تعریف او تقسیم کې د وقف رول او د هغه په اړه صحیح دریځ روښانه او په ګوته شي.

**د څیړنې ارزښت او د هغې اړتیا**

دغه څېړنه له څو اړخونو ارزښتناکه او اړینه ده:

په دې سره به د محکم او متشابه په تقسیم او تعریف کې د اختلاف ځنې لاملونه په ګوته شي.

د دې څیړنې له وروستیو پایلو سره به د محکم او متشابه په تعریف او تقسیم کې په آیت کې د وقف رول څرګند او په دې اړه به د تفسیرپوهانو تر مینځ صحیح موقف په ګوته او روښانه شي.

په دې څېړنې سره به د آل عمران سورت د اوم آیت سم تفسیر او سمه پوهېدنه هم اسانه شي، او هم به ورسره په دې اړه د یو شمېر کږو او انحرافي پوهېدنو او انګېرونو مخه ونیول شي.

**د څیړنې موخه**

د څیړنې موخه داده چې د متقدمینو تفسیر پوهانو په وړاندې د محکم او متشابه په تعریف او تقسیم کې د وقف بنسټیز رول او د هغه په اړه د تفسیر پوهانو تر مینځ صحیح دریځ او موقف په ګوته شي.

**اصلي پوښتنه**

د متقدمینو تفسیر پوهانو په وړاندې د محکم او متشابه په تعریف او تقسیم کې په اړوند آیت کې وقف څه رول لري؟

---

[1]- له کومه ځایه چې وقفونه اجتهادي دي او توقیفي نه دی، او د معنی تر صحت او عدم صحت او د هغو تر مراتبو پورې تړاو لري، څکه نو په دې آیت کې د وقف په اړه د علماوو تر مینځ مختلف آراء وجود لري کوم جې د متشابهاتو په تعریف او تقسیم کې خپل اثر لري. لیکوال

[2]- متقدمین مفسرین: (تقدم) یو نسبي امر دی؛ هره مخکینۍ زمانه له وروستۍ څخه متقدمه ده، او هر مخکینی شخص د وروستي له پاره متقدم دی په دې هکله کومه ټاکلې فاصله زمانه نشته، د همدې له پاره لېدل کیږي چې د هرې زمانې مفسر له خپله ځان څخه مخکې علماء د متقدمینو په نامه یادوي . صحابه کرام، تابعین او تبع تابعین د متقدمینو په لومړي سر کې قرار لري. دلته له متقدمینو څخه مراد د نوي عصر یا د نهضت له عصر  -کوم چې بنسټ یې سید جمال الدین افغان رحمه الله ایښی- څخه مخکیني علماء مراد دي. په بل عبارت له دیار لسمې هجري پېړۍ څخه مخکني علماء د متقدمینو مفسرینو په توګه ګڼل شوي دي. لیکوال

**فرعي پوښتنه**

د محکم او متشابه په تعریف او تقسیم کې په اړوند آیت کې د وقف د رول په اړه د متقدمینو تفسیر پوهانو تر مینځ صحیح موقف کوم دی؟

**د څېړنې منهج او تګلاره**

د څېړنې منهج او تګلاره د څېړنې د طبیعت پر اساس پر استقرائي او وصفي منهج ولاړه ده.

د متقدمینو تفسیر پوهانو په یو شمیر مهمو تفسیري کتابونو کې موضوع پلټل شوې او له تحلیل او مناقشې وروسته ترې استنباط صورت موندلی دی او اصل موضوع توصیف شوې او معرفي شوې ده.

**مخکینی څېړنې**

د قرآن کریم د محکم او متشابه په تعریف او تقسیم کې په اړوند آیت کې د وقف قضیې ته یو شمېر متقدمینو تفسیر پوهانو تر یوه بریده اشاره کړې ده چې په لاندې توګه یې لنډیز را اخلو:

ابو جعفر ابن جریر الطبري په دې اړه وایي: تفسیر پوهان په دې کې سره مختلف دي چې د "وَالرَّاسِخُونَ" لفظ د "الله" پر لفظ باندې عطف دی په دې معنی چې راسخینو ته هم د متشابه تأویل زده دی او یا دا چې جمله د "الله" پر لفظ بشپړه شوې او "والرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ . ." نوې مستأنفه جمله ده؛ په دې معنی چې راسخین یوازې وایي چې پر متشابه مو ایمان راوړی او دامو منلې چې په متشابه باندې له الله پاک څخه پرته بل څوک نه پوهیږي؟

نو ځنو ویلي چې د آیت معنی داسې ده: د متشابهاتو په تأویل باندې یوازې الله پاک پوهیږي چې په خپل علم سره ځانګړی دی؛ پاتې شول راسخون في العلم، نو د هغوی خبره داده چې: مونږ پر متشابه او محکم ایمان لرو او دا ټول د الله له لوري ګڼو.

دا قول د عائشې صدیقې، عبد الله بن عباس، عروة بن زبیر، أبو نهیک الأسدي، عمر بن عبد العزیز،[1] مالک او یو شمېر نورو دی.

او ځنو نورو ویلي چې د آیت معنی داسې ده: د متشابهاتو په تأویل باندې له الله پاک او راسخینو پرته نور څوک نه پوهیږي، خو راسخین د خپل علم له پوخوالي سره سره وایي چې: "آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا". مونږ پر متشابه او محکم ایمان لرو چې دا ټول د الله له لوري دي.

دا قول د عبد الله بن عباس، مجاهد،[2] الربیع،[3] ابن جعفر بن زبیر[4] او یو شمېر نورو دی.[5]

أبو جعفر طبري د لومړۍ ډلې سره هم نظره دی، او د (أبيّ) په قرائت: (وَيَقُولُ الرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ)، او (عبد الله بن مسعود) په قرائت: (إِنْ تَأْوِيلُهُ إِلا عِنْدَ اللَّهِ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ) باندې استدلال کوي.[6]

**د دواړو نظریو توفیق او سره یوځای کول:**

قاضي ابن عطیه[7] په خپل تفسیر (المحرر الوجیز) کې لومړۍ دویم نظر غوره کړی او بیا یې د دواړو تر مینځ اتفاق او نږدې والي ته اشاره کړې ده. په دې توګه چې (متشابهات) یې غیبي حقایقو او لغوي وجوهو ته ویشلي دي او (راسخین) یې د دویم ډول (متشابهاتو) د تأویل په علم کې شریک بللي دي. بنا پر دې وقف د (الله) او (وَالرَّاسِخُونَ) پر لفظونو دواړو جایز دی. هغه وایي: کله چې د متشابهاتو په ډولونو او تعریفونو کې غور وشي نو د نظرونو اتفاق پکې راتلای شي. او دا په دې توګه چې

---

[1]- أبو حفص عُمَر الأموي القرشي (61 - 101 هـ = 781 - 720 م) د عبد العَزِیز زوی د مروان لمسی، په عادل او پینځم راشده خلیفه شهرت لري، په مدینه منوره کې زېږېدلی او همدلته لوی شوی، د ولید پر وخت د مدینې والي پاتې شوی، د سلیمان وزیر او له هغه وروسته خلیفه شو، او دونیم کاله خلافت یې کړی. ودې کتل شي: الزركلي، الأعلام: ٥٠/٥.

[2]- مجاهد د جبر زوی (په فتحې د جیم او سکون د باء سره) المکي أبو الحجاج المخزومي المقرئ. په تابعینو کې د تفسیر په علم کې تر ټولو پوه شخص و، په کال (٢١) هجري د عمر بن الخطاب په خلافت کې زېږېدلی او د (١٠٠) او (١٠۴) هجري کلونو تر مینځ د (٨٣) کلو په عمر د سجدې په حال کې وفات شوی. ودې کتل شي: تهذیب التهذیب: [32\42-44] (باختصار).

[3]- الربیع البکري الحنفي البصري الخراساني د انس زوی. د أبو جعفر منصور په خلافت کې په کال (139) یا (140) کې وفات شوی. ودې کتل شي: تهذیب التهذیب: [12\15-16].

[4]- محمد الأسدي د جعفر زوی د زبیر-رضي الله عنه- لمسی او د عوام کړوسی. د مدینې منورې له عالمانو، فقیهانو او قراوو څخه و، د (١١٠) او (١٢٠) هجري کلونو تر مینځ وفات شوی. ودې کتل شي: تهذیب التهذیب: [30\93].

[5] - تفسیر الطبري: ٦/٢٠١-٢٠٣. طبري: ابو جعفر طبري محمد د جریر زوی د یزید لمسی، د مفسرینو سر لاری، د احکام القرآن، سنتو او تاریخ بې جوړې عالم او د خپل وخت امام، د طبرستان په آمل سیمه کې په (٢٢۴هجري کې زیږیدلی او په (٣١٠) هجري کې وفات شوی. ودې کتل شي: السیوطي، طبقات المفسرین: [1\82] (په اختصار).

[6] - تفسیر الطبري: ٦/٢٠۴.

[7]- ابن عطیة المحاربي، الغرناطي أبو محمد (481 - 542 هـ): عبد الحق د غالب زوی د عبد الرحمن لمسی د عطیة کړوسی د اندلس دغرناطې اوسیدونکی و. په تفسیر، حدیث، شعر او قضاء کې یې مهارت درلود او په غزاګانو کې یې ډېره برخه اخسته. په کال (541) یا (546) هجري کې په لورقه سیمه کې وفات شوی. ودې کتل شي: الوافي بالوفیات للصفدي: [40/18].

متشابه دوه ډوله دي؛ يو يې هغه دي چې په هيڅ صورت کې د علم لاس رسی ورته نشي کيدای، لکه د اصل روح قضيه او د يو شمېر غيبي حقايقو حالت او کيفيت، لکه د قيامت پيلېدل او په هغه کې پېښېدونکي واقعات. او بل يې هغه دي چې لغوي اړخ ته ور ګرځي چې راسخين د هغو سم تأويل پيژندلی شي، لکه د عيسی -عليه السلام- په هکله چې ويل شوي دي: {وَرُوحٌ مِنْهُ}[1] نو په دې اړه راسخين صحيح خبره کولی شي، او چې د داسې الفاظو لغوي تحقيق ونه پيژني نو هغه ته اصلا راسخين نشي ويل کيدای. نو د الله پاک په دې قول کې: {وَما يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ} د (ه) ضمير مطلق متشابه ته را جع دی، کوم چې دوه ډوله دي. نو {إِلَّا اللَّهُ} باندې وقف کول بداهة غواړي چې الله پاک د ټولو متاشبهاتو په تأويل باندې په کمال او استيفاء سره عالم دی، نو که: {وَالرَّاسِخُونَ} د (الله) پر لفظ عطف شي نو راسخين به د متشابه په علم لرلو کې شامل شي خو د کمال او استيفاء په توګه نه، بلکې د دوی علم به مقتصر وي تر دويم ډول متشابهاتو پورې. او ابن عباس صاحب ته چې د متشابهاتو د علم ثبوت نسبت کيږي هغه د همدغه دويم ډول متشابهاتو علم دی، نه مطلقا. دا صحيح نه ده چې هغه ته دې د روح او قيامت د پيلېدو علم هم وي؛ سره لدې چې هغه د (ترجمان القرآن) لقب لري.

بنا پر دې: {الرَّاسِخُونَ} لفظ باندې وقف کيدای هم شي، او نه شي کيدای هم. او همدا د ابن عباس صاحب نظر هم دی. نو کومو علماوو چې ويلي چې راسخين د متشابهاتو په تأويل نه پوهيږي لوموړی ډول متشابهات يې مقصد دي او يوازې د (الله) پر لفظ وقف کوي، او چې ويلي يې دي چې پوهيږي نو دويم ډول متشابهات يې مقصد دي او يوازې د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) پر لفظ باندې وقف کوي.[2]

د ابن عطية صاحب دغه د جمعې نظر أبو القاسم ابن جزي په (التسهيل في علوم التفسير)[3] کې، أ بو حيان الأندلسي[4] په (البحر المحيط[5] کې، أبو زيد الثعالبي په (الجواهر الحسان في تفسير القرآن) [6] کې او الراغب الأصبهاني په (مفردات)[7] کې او يو شمېر نورو په خپلو تفسيرونو کې ذکر کړی دی.

ښاغلي الوسي[8] همدغه نظر ته د تحقيق د څنو امامانو نظر ويلی دی. او همدغې خبرې ته علامه بدر الدين زرکشي هم په يو بل ډول تعبير سره اشاره کړې ده؛ هغه وايي: . . ويل شوي چې په دې مسئله کې اختلاف محضې لفظي دی. په دې توګه چې کوم خلک چې وايي راسخين د متشابهاتو په تأويل پوهيږي مقصد يې دادی چې ظاهرا پوهيږي؛ نه په حقيقي بڼه. او څوک چې وايي راسخين د متشابهاتو په تأويل نه پوهيږي مقصد يې د هغو په حقيقت پوهيدنه ده، ځکه حقيقت يې يوازې الله ته معلوم دی.[9]

په همدې توګه د حديثو د شراحو له ډلې څخه مبارک فوري[10] صاحب د ترمذي په شرح کې وروسته تر هغه چې د ابن حجر[11] صاحب قول يې د متشابهاتو په اړه نقل کړی ويلي دي: . . څنې علماء دلته په تفصيل قائل دي او وايي چې د تأويل اطلاق په قرآن کريم کې په دوو معناوو راغلی: يو حقيقت او ما يؤول اليه الأمر، او بل تفسير او بيان. نو که په آيت کې لوموړی معنا مراد شي نو وقف به د (الله) پر لفظ وي او بس، ځکه د متشابهاتو حقيقت او ماهيت يوازې الله پاک ته معلوم دی او بس. او که دويمه معنا مراد شي نو بيا به وقف په (وَالرَّاسِخُونَ) باندې وي، ځکه راسخين د قرآن کريم د ټولو خطاباتو پر تفسير او بيان باندې پوهيږي که څه هم اصلي حقيقت او ماهيت يې ورته پوره څرګند نه وي [12].

حقيقت دادی چې همدغه توفيقي نظر ته زړه او ضمير ډاډه کيږي او اطمينان مومي، او په همدغه کې د قرآن کريم د آيتونو له ټکر او تضارب څخه نجات او خلاصون دی، له هغه ټکر او تضارب څخه کوم چې د هلاکت او تباهۍ لامل ګرځي.

---

(1) – سورة النساء، من آية: [171].

(2) – المحرر الوجيز، ابن عطية: [1\403 – 404] مختصرا.

(3) - [1\145]. ابن جُزَيّ الكَلْبي (693 - 741 هـ = 1294 - 1340 م): أبو القاسم محمد د أحمد زوی د محمد لمسی د غرناطې اوسېدونکی، فقيه، اصولي او لغوي عالم و. الأعلام: 5\525.

[4]- أبوحيان الغرناطي الأندلسي أثير الدين النحوي (654 - 745ه) محمد د يوسف زوی د علي لمسی د يوسف ابن حيان کړوسی. د عربيت، نحوې، تفسير، او تاريخ ستر عالم و چې په قاهره کې زېږېدلی او په قاهره کې اوسېدلی او هماغلته وفات شوی دی. و دې کتل شي: محمد بن شاكر فوات الوفيات: [71/4]، همداسې: الزرکلی، الأعلام: [7\152].

(5) - [3\23].

(6) - [2\11]. أَبُو زَيْد الثَّعَالبي (786 - 875 هـ = 1384 - 1470 م): عبد الرحمن د محمد زوی د مخلوف لمسی د الجزائر له نوميالو علماوو څخه دی. ودې کتل شي: الزرکلی، الأعلام: 331/3 331/3 په اختصار.

(7) - [1\445]. أبو القاسم الراغب الاصفهاني (000 - 502 هـ): حسين د محمد زوی د مفضل لمسی. مشهور أديب او حکيم عالم و، په اصل کې د اصفهان و خو په بغداد کې اوسېدلی، خلکو به د امام غزالي په څېر ګاڼه. ودې کتل شي: الذهبي، سير أعلام النبلاء: [20/18]، همداسې: الأعلام للزركلی: [2\255].

[8]- ألوسی شهاب الدين السيد محمود البغدادي، ستر عالم او د بغداد مفتي و، په (1270) هجري کال کې وفات شوی. موسوعة الأعلام: [1\44] په اختصار.

([9]) - البحر المحيط في أصول الفقه، أبو عبد الله بدر الدين محمد بن عبد الله بن بهادر الزركشي: (2\197).

[10]- مباركفوري، محمد عبد الرحمن د شيخ عبد الرحيم زوی او د بهادر لمسی، علامه، حافظ، حجت او له سترو محدثينو څخه و. په کال (١٢٨٣) هـ ق کې د هند په مبارکفور سيمه کې زېږېدلی، علوم يې له خپل پلار او نورو شيوخو څخه تر لاسه کړي او د حديثو علم ته يې ځانګړې پاملرنه کړې ده، او په کال (١٣٥٣) هـ ق کې په خپل وطن کې وفات شوی. الموسوعة الحرة.

[11]- أبو الفضل شهاب الدين ابن حجر أحمد الكناني العسقلاني د علي زوی د محمد لمسی (773 - 852 هـ) اصلي وطن يې د فلسطين عسقلان دی خو زېږده او مړينه يې د مصر په قاهره کې شوي. د علم او تاريخ له امامانو څخه دی. الأعلام للزركلی: [1\178] په اختصار.

([12]) - تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي، أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المباركفوري [272/8 – 273]، دار الكتب العلمية – بيروت.

دومره ده چې دغو نښاغلو لومړی متشابهات تعریف کړي او بیا یې د هغو په رڼا کې وقف پر هغو باندې مرتب کړی دی. داسې ندي شوي چې هغوی وقف اصل ګرځولی وي او بیا یې پرې متشابهات تقسیم کړي او تعریف کړي وي.

**موندنې**

د موضوع په اړه د مخکینو څېړنو له چټک عرض او په هغو باندې له ځغلنده نظر څخه لاندې نکات موندل شول:

لومړی: په آیت کې د وقف یوازې یوې بڼې ته اعتبار ورکول او دویمه بڼه له پامه غورځول؛ د (الله) پر مبارک لفظ وقف معتبر ګڼل او پر هغه باندې د متشابهاتو تعریف بنا کول، او د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) لفظ باندې وقف له پامه غورځول او هغه په هېڅ ډول نه رعایتول.

دویم: په آیت کې د وقف یوازې یوې بڼې ته اعتبار ورکول او دویمه بڼه له پامه غورځول؛ د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) پر لفظ وقف معتبر ګڼل او پر هغه باندې د متشابهاتو تعریف بنا کول، او د (الله) پر مبارک لفظ باندې وقف له پامه غورځول او هغه په هېڅ ډول نه رعایتول.

دریم: په آیت کې د وقف دواړه بڼې په نظر کې نیول او متشابهات دوه ډوله ګڼل او دواړه جلا جلا تعریفول؛ د (الله) پر مبارک لفظ وقف هم معتبر ګڼل او پر هغه باندې د متشابهاتو د یوه ډول تعریف بنا کول، او د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) لفظ باندې هم وقف معتبر ګڼل او د هغه پر بنسټ باندې د متشابهاتو دویم ډول تعریفول.

**مناقشة**

په آیت کې وار له واره دمتشابهاتو تعریف او بیا د نومړي تعریف پر بنسټ د وقف یوه بڼه غوره کول او یا د وقف یوازې یوې بڼې ته اعتبار ورکول او دویمه بڼه له پامه غورځول یعنې د (الله) پر مبارک لفظ وقف معتبر ګڼل او پر هغه باندې د متشابهاتو تعریف بنا کول، او د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) لفظ باندې وقف له پامه غورځول او هغه په هېڅ ډول نه رعایتول؛ همداسې په آیت کې د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) پر لفظ وقف معتبر ګڼل او پر هغه باندې د متشابهاتو تعریف بنا کول، او د (الله) پر مبارک لفظ باندې وقف له پامه غورځول او هغه په هېڅ ډول نه رعایتول څو علمي ستونزې لري چې باید مناقشه شي:

- مخکې لدې چې په ایت کې وقف ته مراجعه وشي او هغه د متشابهاتو د تقسیم او تعریف بنسټ وګرځول شي متشابهات تقسیمول او تعریفول علمي او موضوعي ندي څرنګه چې د دواړو لوریو په نظریو کې څرګندیږي.
- د وقف د یوې بڼې ترک کول او نه اعتبارول په هیڅ کومې علمي ضابطې باندې ولاړ نه دي، په داسې حال کې چې د وقف د دواړو بڼو روایت په صحیح او معتبر سند سره نقل  شوی، او دواړه دمعنی له مخې صحیح هم دي، او عملا په صحابه کرامو او تابعینو عظامو کې دواړه بڼې خپل خپل روایت کوونکي او عمل کوونکي لري.

بنا پر دې په آیت کې د وقف یو صورت اعتبارول او بل یې له نظره غورځول علمي مستند او مجوز نه لري نو ځکه په آیت کې د وقف د رول په اړه یې صحیح موقف نه شو ګڼلی. والله تعالی أعلم.

پاتې شو دریمه نظریه او رأیه یعني د متشابهاتو ګڼ ډولونه په پام کې لرل او په آیت کې د وقف دواړو بڼو ته اعتبار ورکول او متشابهات دوه ډوله ګڼل او هر یو جلا جلا تعریفول؛ د (الله) پر مبارک لفظ وقف هم معتبر ګڼل او پر هغه باندې د متشابهاتو د یوه ډول تعریف بنا کول، او د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) لفظ باندې هم وقف معتبر ګڼل او د هغه پر بنسټ باندې د متشابهاتو بل ډول تعریفول؛ نو دا د دوو دلیلونو له مخې په آیت کې د متشابهاتو په تقسیم او تعریف کې د وقف د رول په هکله صحیح او راجح نظر او موقف دی:

۱- د متشابهاتو  ټول ډولونه په پام کې نیول شوي دي او له هغو څخه هېڅ یو یې له تعریف څخ بهر نه پاتې کیږي.

۲- په آیت کې د وقف روایت شوې دواړه بڼې صحیح او ثابت وقفونه معتبر ګڼل او پر هغو دواړو باندې احکام بنا کول همدا هغه صحیح منهج او صحیح موقف دی، ځکه دواړه وقفونه د معنی له لحاظه صحیح دي او خپل خپل مصداق لري، او په دواړو وقفونو باندې عمل کیږي.

**پایله**

له پورتنی څېړنې څخه دې پایلې ته ورسیدو چې  یو شمېر متقدمینو تفسیر پوهانو د محکم او متشابه په تعریف او تقسیم کې یا خو د متشابهاتو له ډولونو څخه یو ډول په پام کې نیولی او بیا یې د هغه له مخې په اړوند آیت کې د وقف یوه بڼه غوره کړې ده، او یا یې په اړوند آیت کې لومړی د وقف یوه بڼه غوره کړې او بیا یې د هغه پر اساس متشابهات یو ډول ښودلي او تعریف کړي دي، او یا یې دواړه بڼې اعتبار کړي دي او دواړه یې د متشابهاتو په تعریف او تقسیم کې رعایت کړي دي.

یوې ډلې علماوو په آیت کې یوازې د (الله) پر مبارک لفظ باندې وقف ته اعتار ورکړی او په همدې بنسټ یې متشابهات یوډول ګڼلي او هغه یې داسې تعریف کړي چې له الله پاک پرته بل څوک یې پر تأویل علم نه لري.

دويمې ډلې بيا په آيت کې د (وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ) لفظ باندې وقف معتبر ګڼلي او د (الله) پر مبارک لفظ يې وقف له پامه غورځولی دی، او بنا پر همدې يې متشابهات يو ډول ګڼلي او هغه يې داسې تعريف کړي چې راسخ علماء يې په تفسير او بيان باندې پوهيږي.

او دريېمې ډلې علماوو بيا دواړه وقفونه معتبر ګڼلي دي او بنا پر دې يې متشابهات دوه ډوله تقسيم کړي او هر يو يې جلا جلا تعريف کړی دی.

د لومړي وقف د اعتبار پر بنسټ د متشابهاتو لومړی نوعه هغه ده چې د هغو په تأويل باندې يو ازې الله پاک علم لري او له هغه پرته بل څوک – که هغه راسخ علماء دي او که نور – د متشابهاتو د تأويل علم ته لاسرسی نه لري. لکه د روح حقيقت او قيامت او نو رو مغيباتو او هغو پورې د اړوندو مسائلو د دقيقو جزئياتو او تفصيلاتو علم او پوهه.

د دويم وقف پر بنسټ د متشابهاتو دويمه نوعه هاغه ده چې د هغو د تأويل او تفسير پوهه د عامو مسلمانانو له مينځه راسخو علماوو ته هم حاصله ده. لکه له خفي، مجملو او مشترکو نصوصو څخه د أحکامو استنباط او داسې نور تخصصي موضوعات چې مفسرين او فقهاء پر پوهيږي.

**مصادر او مراجع**


1. قرآن کريم

2. أزهر البيان في تفسير کلام الرحمن، الشيخ محمد إکرام الدين بدخشاني الأفغاني، تحشية وتعليق: معتصم بالله إکرامي، مکتبة إسلامية، لاهور-باکستان، الطبعة الرابعة(2015م).

3. البحر المحيط في أصول الفقه، أبو عبد الله بدر الدين محمد بن عبد الله بن بهادر الزرکشي.

4. ابن عاشور، التحرير والتنوير = تحرير المعنى السديد وتنوير العقل الجديد من تفسير الکتاب المجيد، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور التونسي (المتوفى: 1393هـ)، الدار التونسية للنشر – تونس، 1984 هـ ،

5. ابن عطية ابو محمد عبد الحق، المحرر الوجيز في تفسيير الکتاب العزيز، 1413هـ، دار الکتب العلمية، لبنان.

6. تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي، أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم المبارکفوري، دار الکتب العلمية – بيروت.

7. الثعالبي، الجواهر الحسان في تفسير القرآن، تحقيق: الشيخ محمد علي معوض والشيخ عادل أحمد، دار إحياء التراث العربي – بيروت، الطبعة الأولى - 1418هـ .

8. الطبري محمد بن جرير، جامع البيان في تأويل القرآن، 1420هـ، مؤسسة الرسالة.

9. الوسي، روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني، المؤلف: محمود الألوسي أبو الفضل، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت.

الموسوعة القرآنية المتخصصة، مجموعة من أساتذة جامعة الأزهر، جمهورية مصر العربية، وزارة الأوقاف، المجلس الأعلى للشئون الإسلامية، بإشراف وتقديم: أ.د. محمود حمدي زقزوق وزير الأوقاف. القاهرة 1423هـ.